# هيڅ دوه مسلمانان سره نه مخامخ کېږي او يو له بل سره روغبړ نه کوي مګر دا چې له جلا کېدو نه وړاندې به ورته بخښنه وشي

له البراء رضي الله عنه نه روايت دی وايې چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «هيڅ دوه مسلمانان سره نه مخامخ کېږي او يو له بل سره روغبړ نه کوي مګر دا چې له جلا کېدو نه وړاندې به ورته بخښنه وشي».
[د ټولو روايتونو په اعتبار صحيح دی] [ابو داود، الترمذي، ابن ماجه او احمد روايت کړی دی]

نبی صلى الله عليه وسلم خبر ورکوي چې هيڅ دوه مسلمانان سره په لار او يا بل ځای کې نه مخ کېږي چې يو پر بل سلام واچوي او لاسونه ورکړي، مګر دا چې مخکې لدې به ورته بخښنه وشي چې يو له بل څخه جلا شي، د بدن په جلا کېدو او يا له روغبر څخه په خلاصېدو.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/6257